ژباړه : عبدالرحمن فرقاني ۲۰۱۰/۰۲/۰۵م

# نړی مه تهدیدوي

دیر مسلمانان د نړی سره د دښمني پاللو عجیب قدرت لري , د مثال په توګه په عربي اواسلامي نړی کی د بعضو هیوادونو په سیاسي خطاب کی دنړی لویو هیوادونو ته ګواښ اوتهدید نغښتي وي , حال دا چی دا هیوادونه دومره بیوزله او ناتوانه دي , چی خپل ملتونو ته ډوډی , پټرول ..... او د خپلو ملتونو څخه د بیسوادی توره تیاره نشي پورته کولي , چه موده وړاندي د العربیه تلویزوني چنل څخه مي د یوه اصلاحي ایراني مفکر نه واوریدل چی دخپل هیواد دنظام په هکله ئي په تمسخر آمیزه ډول ؤ ویل : نه پوهیږم چی دا زموږد مرګ ویلو لست به چیرته پاي ته ورسیږي؟ زموږ نظام دمرګ ویلو پیل د امریکا څخه وکړ , بیا ئي پر اسرائیل باندي مرګ ویل اضافه کړل , بیا ئي په بریتانیا باندي شك پیدا شو او پربریتانیا باندي مرګ شعار پورته کړ, او کله چی د فرانسیه یوی ورځپاڼی د ایران د مظاهراتو رپوټونه خپاره کړل نو ئي په فرانسه باندي مرګ ووي , اوکه روسیه د ایران په هکله دبندیزونو اړوند د ویتو حق استعمال نکړي نو د روسیه په ضد به مرګ وویل شي , او کیدي شي چی نور هغه هیوادونه د مرګ په لست کی ورزیات شي چی دامریکا سره ښی اړیکی لري , او په پاي که به ووائي چی مرګ پرنړی .
آیا دا عقلونه په ریښتیا د ځان احترام کوي پداسي حال کی چی دوي داسلام شعار پورته کوي , او اسلام انسان دی ته رابولي تر څو دښمن په ملګري او دوست واړوي , **قال تعالی: « ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ»، وقال تعالی: «عَسَى اللَّهُ أَنْ يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُمْ مِنْهُمْ مَوَدَّةً»** او بعضي امامان په تلویزوني چنلونو کی دعا کوي : یا الله (ج) بهودان اوهغه ځوك چی ورسره یهودیت کوي هلاك کړي , یا الله(ج) نصارا او هغه ځوك چی ورسره نصرانیت غوره ګڼي هلاك کړي , یا الله (ج) مجوس او هغه ځوك چی ورسره مجوسیت کوي هلاك کړي , یا الله (ج) بودایان او هغه ځوك چی ورسره بودایت غوره ګڼي هلاك کړي , یا الله (ج) چینایا ن او هغه ځوك چی ورسره چینایتوب پالي هلاك کړي او د دعا کړی دومره تنګه شي چی هیځوك ورنه پاتي نشي پرته د دی د کوځي له خلکو څخه اوبعضي امامان خو داسي دعا پورته کوي چی د الله تعالی څخه دلودیځ داقتصاد نړیدل غواړي او د وبا او مرضونو مسلطیدل وړباندي غواړي موږ باید پوه شو چی د دوي او زموږ اقتصاد ګډ دي او مرضونه موږ ته هم رسیدلي شي , ځکه چی موږ ټول په یوه نړی کی ژوند کوو .
او بعضي خو دعا دومره عامه کړي , چی ټول کفار پکښي شامل کړي , که هغه تجاوزګر وي اوکه بي ګناه , سره لدي چی هغه چا چی ټلیفون جوړکړی دي , هغه چا چی میکرافون په جوماتونو کی جوړ کړی , هغه چا چی د انترنت سیستم جوړکړی , هغه چا چی بریښنا جوړه کړی ده , هغه چا چی الوتکه جوړه کړی ده , او هغه چا چی... او په خپلو دفترونو کی په خپلو علمي ځیړنو بوخت دي ټول کفار دي , او موږ لا تراوسه دغفلت وخت تیرو , ولي زموږ بعضي خلك دنړی سره دښمني ته تیار دي او دګواښ اوتهدید شعارونه پورته کوي , او د آبادي نړي نړیدو ته دعا ګاني کوي ؟ , آیا دا داسلام تګلاره ده ؟ آیا دا د دین منطق دي ؟ آیا دا د عقل سره سمون لري ؟ او که دا په ریښتیا حماقت دی ؟ اوکه دا اصلي بي عقلي ده ؟ موږ دی ته اړتیا لرو تر څو نړی ته اطمئینان وروبښوو , او خپل ملګري او دوستان دیر کړو او د ټکر او تصادم مخنیوي وکړو , ځکه چی زموږ رسالت نړیوال رسالت دي , هغه رسالت چی پکښي رحمت , امن او سلام دي , **قال تعالی: «وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ»** .
او بعضي چی په خپلو بیوزله اوبي واکه ملتونو کي بیانه ورکوي , نو عسکري دریشي به واغوندي , او داتلوالي نښانونه په ټټر باندي ټینګ کړي , او داستقلال تاج به ئي په سر وي , حال دا چی په هیڅ یوه نظامي جګړه کی به بریالي شوي نوي , اوخپل هیواد به ئي تر استعمار لاندي راوستي وي , او د اورڅخه ډکه بیانیه به ورکړي , دنړی هیوادونو ته به د اور او بربادی ګواښونه ورکړي او په خپل هیواد باندي به ئي بیوزلي اوفقر مسلط وي , هیڅ راز برئ به ئي نوي لیدلي , او په دنیا اوآخرت به شرمیدلي وي .
ای مسلمانانو : لیکوالانو , علماوو , سیاست پوهان , خطیبانو , ..... نړی ته عاقل , راشد او مسؤل خطاب وړاندي کړی هغه خطاب چی بشر ته د رحمت شفقت نرم کردار څخه ډك وي , او دا بیځایه شعارونه او وهمي لاسته راوړني او ناکامي څخه پاك وي , نور دا راز چلند بس دي دا یوازي د رواني مریضانو سره مناسب چلند دئ , زموږ شریعت د غیر مسلمینو سره په رحمت او نرم چلند ټینګار کوي که چیري دوي زموږ سره جنګ نکوي , **«لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ»**
خو بعضي د موږ څخه د خپل حماقت په پایله کی مسالمی نړی ته ګواښ متوجه کوي حال دا چی دوي په خپله خاوره کی له مسالمت آمیزه ډول ژوند کولو څخه عاجز وي . لیکنه : عائض القرني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ